Afghanistan Digital Library

adl0833

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

ad10833

# اساسي نظامنامه

## لوړ دولت د افغانستان

په ۲۲ حمل سنه ۱۳۰۶ شمسیه هجري کښ

مطبعه کښ د "شرکت رفیق" په ماشینونو

د کابل کښي چاپ شویدي

شمار د چاپ ...... (۲۵۰۰)

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 3 of 32

بسم الله الرحمن الرحيم

# اساسی نظامنامه د لوړ دولت د افغانستان

(۱):- لوړ دولت د افغانستان په دننه نی او بانډنی کارو
خپلو د پوره استقلال او خپل واکی لری ـ ټول
ځایونه او علاقی د ملکونو ددی مملکت ترحکم
او پاکه اراده د خپل پادشاه لاندی په صورت د
یو وجود تشکیل کیږی، او په هیڅ شان په علاقو
ددی دولت کوتفریق او جلا والی گولای نشی!

(۲):- دین د افغانستان، پاک دین د اسلام
او رسمی او عمومی مذهب د افغانستان پاک مذهب

دحنفي دي - اهل د نورو دينو چه غير له اسلامه
په افغانستان کښی شته لکه هندوان او يهوديان
تر ساتنه لاندی ټول کیږی په شرط د ورکولو
د جزيه او ګرلو د مېزنه قبنی که آرامی او لازمی احترامات
ته د افغانستان خلل او وبجارنه ونه رسوی.

(٣) :- د افغانستان پايتخت ښهر د کابل دی - او ټول
تابعان خلق د افغانستان ته نظر د حکومت په نبو
ګتنه ګوری چه خلق د کابل نسبت د نورو ښهرو
او علاقو رعيت ته هيڅ فرق او بيلوالی نه لری!

(٤) :- په سبب د لويو لويو خدمتو چه اعليحضرة همايون
په باب د ترقی او پورته کول، او استقلال د ملت
د ښتانه کښی ښکاره کړی دی - پاك ملت د ښتانه
ذمه بودار کیږی، چه سلطنت او پادشاهی د افغانستان
په اولاد او زامنو دی ترقی خواه پادشاه ته په اصول
د اولاديت په انتخاب او خوښه ول د پادشاه او د ملت

نقل کیږی - ذات د سلوکانه به پوقت د کیناستلو
پر تخت دَپادشاهی بانګکے په حضور د اشراف او
معتبرین د ملّت نه برداره کیږی، چه سم
دَ "شرع شریف" او د دی نظامنامی سره به ابراز دَ
حرکو نو کوی - رعایت د "استقلال" د "افغانستان"
او صداقت لپاره د ملّت او د وطن به کوی .

(۵):- ذات د اعلیحضرت خدمتګار او ساتونکی
دَ دین مبین دَ اسلام متبوع او پادشاه د تمامی
تبعه او رعیت د افغانستان دی !

(۶):- مسئول کاروونه د افغانستان په واسطه د وزیرانو
د دولت [چه په امر و پاکه اراده او خوښوالی دَ
اعلیحضرت ټیټ‌کیږی] اداره او جاری کیږی
هر یو له وزیرانو ځپلو وظیفو و کارو کښ مسئول
و جوابده دی - له دی جهته ذات د اعلیحضرت
مسئول نه ګڼل کیږی .

(۷):- په خطبه کښې آخستل د نوم د پادشاه، وهل د سکې په نامه د پادشاه، تعیین او خښتول د درجو او د منصبو، برابر خاصو قاعدو خپلو سره، درول د صدرِ اعظم او د نورو وزیرانو، او معزولول او بدلول د دوی، تصدیق او دستخط کول د عامو نظامنامو، اعلان او حکم کول د ساتنه د دوی، ساتل او جاری کول د حکمونو د شرعی او قانونی، قوماندانی او مشروالی دِ ټول لښکر د افغانستان، اعلان د جنګ او صلح کول، عقد وتړل د تړونو عهدنامو، بخښل یا تخفیف ورکول د مجازات د قانونی عموماً یا خصوصاً، دا ټول دِ لوی حقونه د پادشاهی شخصه شمېرل کیږی.

## (عام حقونه د تبعی او اوسیدونکی د افغانستان)

(۸):- هر څه نفری چه مُلک کښې دِ افغانستان دی، بلا تفریق په هر دین او مذهب چه وی تابعان او

رعیت د افغانستان بلل کیږی ـ صفت د
تابعوالی د افغانستان سره له خاصی نظامنامې
سره ورکول یا ضایع و اخستل کیږی .

(۹) :- ټول او سیدونکی د افغانستان په کاروکښ دین
او مذهب او په سیاسی نظامنامو کښ د دولت
پابند او مقید دی، چه پری عمل وکړی او په حقو
د جان ځپل کښ آزادی لره مالك دی .

(۱۰) :- ځپل واکی او آزادی د هر سړی له هر قسمه خلل
او مداخلی څخه ساتلی شوی دی ـ هیڅ څوك بی
له حکمه د شرعی او قانونی نظامنامو څخه نه توقیف
کیږی او نه جزا ورکوله کیږی،
افغانستان کښ اصول د بندګی کرت بالکل موقوف
او منع دی ، هیڅ نارینه او ښځه په قسم د بندګی
کرت بل څوك خدمتګار او نوکر ساتلی نه شی

(۱۱) :- چاپی پاڼی او اخبارونه د تبعهٔ د افغانستان سره له

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 8 of 32



خپلی نظامنامی سره آزاد دی. جاری کول د
اخبار محض له حقوقه د حکومت یا د اسیدو
او رعیت د افغانستان دی - د خارجه چاپی پانو
په باب کښی حکومت د افغانستان شه قیدونه
او شرطونه ایښودای شی

(۱۲) :- او سیدونکی د افغانستان سم له نظامنامو سره
د پاره د سوداګری، کسب، کار، کښت و ګرنه
هر رنګه شرکت کولی شی.

(۱۳) :- رعیت د "افغانستان" یو سړی یا ډله، کړیو کار خلاف
د شریعت غراء یا له نظامنامو د دولت له مامورین
یا لدیل چا څخه ووینی، د اشو او دسبارو د دولت
ترڅنګ عرضوی - که په هغه د سبارو کښی چیرغ
شوی دی - وانوریدی شی او با زخواست و غوږ
ونه شی، په سلسله د مراتب سره پورته تر هغه
درباره د عرض ورسوی، او که غوږ یی په هیڅ دل

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 9 of 32



کښې و نه شي ضائع حضور مبارك ته د پادشاه
عرض کوله‌ی شي .

(۱۴):- کار د تدریس او سبق ورکول، بالکل آزاد او خلاص دی، چه سم له نصابه سره د عمومي معارف هر یو لرتابعانو د افغانستان "څخه په قسم د عمومي او خصوصي، درس، ورکولی شي - مگر بیگانه خلق، په داخل د افغانستان کښې، په خلاف اصول د مکتبو سره اجازه نه لري - غیر له هغو څخه، چه لپاره د تعلیم نوکران شوي وي .

(۱۵):- ټول مکتبونه د افغانستان، د حکومت تر پلټنه او علم آوري لاندې دي - حکومت په ټول هغه سببونو او تدبیرونه غور و کوشش کوي. چه لپاره د تربیت د علمي او قومي د ټولو وسیدونکو د افغانستان په یو شانی سم او برابر وي - مگر هغه تعلیمي قاعدې ته،

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 10 of 32



هیڅ خلل و یجاله نه رسیږی ، چه په اُمور
د دینی او د مذهبی هندوانو، یا نورو اماتن
غوښتنکو پوری تعلق لوی .

(١٦):- تول تابعان د افغانستان په مخ د شریعت او
نظامنامو د دولت په حقوو او وظیفو د وطن کښی
یو رنګ دی .

(١٧):- عام تابعان د افغانستان ، په اندازه د
قابلیت او اهلیت و ورتوپ خپل ، په تولو
ماموریتو او نوکریو کښی په اندازه د احتیاج
د دولت نوکری لای شی .

(١٨):- مالیی او محصولات په قرار د نظامانو د
هغو، له تابعانو د افغانستان نه په اندازه
واستعدادو او ودانی د دوی ، اینبوڅل او
اخستل کیږی .

(١٩):- په افغانستان کښی هر چا هسی مال او ملک

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 11 of 32



چه د ده په تصرف او په لاس کښې وي، په امن
او ساتنه کښې دي - کرکمه زمکه، لپاره د بوے
عامی فائدے، دِ دولت پکار شی، سره له خاصی
نظامنامی د هغی سره. پس له ورکولو د قیمت د ملک
خاوند ته ئی هغه ملک آخستای شی.

(۲۰):- کور او ځای د استوګنې، د هر یوه د تابعانو
د افغانستان، له هر داره لاس وهلو څخه ساتلي
شوي دي.- هیڅ څوك له لوري د حکومت او د بل
چانه، بی له حکمه د نظامنامو، د هیڅ کور ته جبراً
بی له اجازې د خاوند، ننوتای نه شي.

(۲۱):- په محکمو کښې د عدلیه، ټول عمومی عرضونه
دادونه، سره له شریعته او قاعدو د محکمو د
حقوقیه او جزائیه فیصله او خلاصیږي..

(۲۲):- بیګار او په زور سره چاباندی کار کول او
شی اخستل بالکل موقوف دي — مګر هغه کا

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 12 of 32



او تکالیف چه پوقت د غزا او د جنګ کښ پېښ
شي، سم له خاصي نظامنامې د هغې سره، اکثر
قاعدې نه وتلې دي!

(۲۳):- خارج او وتلې له نظامنامو د دولت نه هیڅ څه
هیڅ شی نه آخستل کېږي.

(۲٤) پشکنجه، پانډه، کنده، نور قسمونه د زجر، وهل،
تکول موقوف دي. - بیرون له حکمونو د شرع
شریف او نظامنامو د دولت، چه سم له حکمو د
شرعي سره تنظیم او جوړې شوي دي، هیڅ قسم
مجازات نه ورکول کېږي.

## وزیران

(۲۵) په "افغانستان" کښ، وظیفه او کاروبار د "حکومت"
"هیئت وزراء" او "اداره مستقله" ته سپارلې شوي
په وقت د پوښتنې کېده د "هیئت وزراء" کښ،
"ریاست" او مشره توب د مجلس، پخپله "اعلیحضرت"

کوی او که ذات شاهانه تشریف نه درلود،
مشر توپ د سوکل په "صدر اعظم" کوی
که "صدر اعظم" حاضرنه وی، له جملی د وزیرانو اوّل
وزیر دوزرا تو، به کار د مشر توپ اجرا کوی.
(۲۶)،-په حال د غائب والی د یوله وزیرانو څخه، "چه وکیل"
درول کیږی، دا وکیل کټ مټ اختیارونه
او حقونه د هغه وزیر لری!
(۲۷)،-په هر کال کښی پخواتر عمومی "عید د استقلال" نه په
یوه خاصه ورځ کښی، چه د اعلیحضرت له خوانه
معیّنه کیږی، په مشرتوب د اعلیحضرت یو لوی
دربار به تړل کیږی.- هغه دربار جوړیږی له
مأمورینو د دولت، او له غټانو، لویانو نه، چه
"ذات شاهانه" له لوړی غوره وپسند شوی وی،
په مخ د هغه دربار کښی، به "هر وزیر" او "مستقل مدیر"
یو کلن اجرآآت او خدمتونه خپل، ښکاره بیان او

خرګنده وی!

(۲۸):- "صدراعظم" او نورو "وزیران" د "اعلیحضرت" له خوانه غوره او معلومیږی!

(۲۹):- "مجلس وزراء" مرجع وثمای د تلل، د تول دننه نی او بانه نی لوی کارو د دولت دی۔ هغه مذاکرات او خبری د وزیرانو او قراردادونه، چه تصدیق غواړی، پس له امضاء و دستخط کول د "اعلیحضرت" نه به جاری کیږی.

(۳۰):- د وزیران هغه کارونه چه د دوی وزارتو ته تړلی شوی دی، په هغه اندازه چه اختیار او واك د دوی کښ وی، دوی ئې پخپله اجرا کوی او پورته تر واك خپل نه هغه چه پخپله حضور د اعلیحضرت ته، به ئې وړاندې کوی۔ او هغه کارونه چه سم له بیانه د نظامنامی د کارو د "مجلس وزراء" تر هغه مجلس پوری تعلق لری،؛

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 15 of 32



مجلس وزراء ته آچول کیږي. مجلس
وزراء په هغه کاروکښې سم له خلاصې
نظامنامې د مجلس د ددې خبرې، ویل به کوي،
بیا به چاره او خلاصوالی د هغه کار سره له
خپلو فکرو امضاء کوي!

(۳۱) هر یو له وزیرانو، په عام سیاست او تمام کارونه
د دولت کښې په شریکې؛ او په هغه کاروکښې
چه وظیفه د هغه وزارت او خپله د هغه وزیر وي
تعلق لري؛ بیا ذي په حضور د "اعلیحضرت"
مسئول او جوابده دي.

(۳۲) په هغه کاروکښې چه یو له وزیرانو څخه یا نورو
کاردارانو ته، د اعلیحضرت له خوانه د خولې حکم
وشي، په دې حکم کښې به فرمان په دستخط
د اعلیحضرت سره حاصلوي.

(۳۳) که یو له وزیرانو د دولت نه، په کار د وزارت خپل

کښې تر محاکمې لاندې ونیوه شي، محاکمه د
دوی "دیوانِ عالی" ته وړه شي. محاکمه د هغوبه
سم له خاصي نظامنامې سره خلاصیږي. - او
نوری دعوی دخپل خاوند د وزیرانو چه له سرکاري کارونه
وتلې وي، په شان د نورو رعیت محکومو عدلیه تدبه ورشي

(۳٤) - هغه وزیر چه دیوان عالی له خوا تر تهمت لاندې را شي
تر هغه پوری چه نتیجه د محاکمې او خلاصیدل د
هغو معلومیږي، له کارو د وزارت نه به معطل پاته
کیږي.

(۳۵) - حساب او اندازه د وزیرانو - جو پیده د دائرو او
وظیفې د هغو په نظامنامه د "تشکیلات اساسی"
کښې ښکاره دي.

## مأمورین

(۳٦) - عام مأمورین، کارداران، سم له هغه قاعدو سره
چه په خاصو نظامنامو کښې بیان شوي دي، په هغه

کارونکښې چه ورته مناسب له هر چا سره تعیین وي،
او د دول کیږي- او هیڅ یو له کاردارانو څخه
ترهغه پورې چه له وظیفې خپلې نه خلاصه
ونه غواړي، یا له بد نماري د دوی نه لائق
د معزولیدو ونه شي، یا د دولت له لوري په
سبب د یو ضروري کار مناسب د بدلیدو
موقوفیدو نه وي، بالکل نه معزول او نه موقوفیږي
هغه مأمورین چه ښه والي د ګذران او سم
والي د خپل خدمت معلوم او څرګند کړي حق
د لوړوالي د مرتبې او د کارې او د مستمري تنخواه
لري.

(۳۷م) :- د کاردارانو وظیفې د کارداري په خاصو
نظامنامو کښې بیل بیل ښکاره شویدي هر کاردار
سره له خاصو نظامنامو سره له خپلو حدونو
څخه پښتل کیږي.

(۳۸):- ټول مامورين په مرتبو درجو خپلو سره په
فرمان منلو د لوی آمر خپل کښې سم له نظامنامې
د دولت سره مکلّف او مؤظّف دی. که د
هغو د پورته آمر له خوا، په اجرا کولو د
کوم کار کښې، خلاف له نظامنامو د دولت
نه، امر او تاکید وشي، لازم دی کارداران د
هغو، د مرکز وزارت ته، دا خبر ور کړي،
که بې خبر ور کولو مرکز ته هغه کارونه خلاف
له قانونه ئې، اجرا کړل؛ دوی هم مسئول او
جواب ده دی.

## مجلسونه د مشورې
## او
## شورې د دولت

(۳۹):- په مرکز د پایتخت کښې یو هیئت د شورا
دولت، او په نائب الحکومګیو کښې، په اوله

د ویمه، دریمه درجه حکومتونو کښې، اوپه علاقه
داریو کښې یو یو مجلس د مشورې موجود ده.

(۴۰) - اعضا د مجلسو د مشورې او "شورای دولت" جوړ شوې
دي له "طبیعیه اعضا" او له "منتخبه اعضاو" څخه.

(۴۱) - طبیعیه اعضا د مجلسو د مشورې له هغه مامورینو څخه دي،
چه په نظامنامه د "تشکیلات اساسیه" کښې بیان شوي دي
او طبیعیه اعضاو د "شورای دولت" برابر په شمار
د "اعضای منتخبه" د "شورای دولت"، په خپله
له خواد "اعلیحضرت" نه تعیین او غوره کیږي
او ټول "اعضای منتخبه" د رعیت له طرفه معین
او مقرریږي — په باب د صورت د انتخاب د دوی
کښې څان څان قاعدې په نظامنامه د
"تشکیلات اساسی" کښې موجودې دي!

(۴۲) - مجلسونه د مشورې او د "شورای دولت" زیات
تر هغه وظیفو چه په نظامنامه د تشکیلات

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 20 of 32



اساسی کښې ښودلی شویده دالاندې کارونه هم له وظیفو
د دوی څخه دی :-

الف: دکسب اوکار، سوداګری، کرنه، معارف
ترقی ولوی والی دپاره، هرڅه تکلیفونه دبرونه
چه مناسب وویني د دولت ته بدئي وړاندې
کوی.

ب:- په خصوص د مالیو، محصولاتو اونورومعاملو
دحکومت کښې- کوم مخالف له قاعدې دنظامنامو
ووینی - په نیت دجوړښت د داسی شان
کارو، حکومت ته عرض اوداد
کولای سی!

ج:- که په هغو حقو کښې د رعیت، چه سره له
نظامنامې سره ورکړې شوی دی، له یوځوا
څخه خلل وخرابي وويني، صلاحيت دعرض
اوحق دغوررسی لري.

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 21 of 32



(۴۳):- هغه فقری چه مجلس د مشورې د ولایات
او د نورو ښاریو، حضور ته د نائب الحکومه او د
حاکمانو عرض او وړاندې کوی - هغه
چه په اندازه د اختیار او واك د "نائب الحکومه"
او د حاکمانو سرم وی، د دوی ځنې په خپله اجرا کوی - او تر واك نه بهر
په هغه "وزارة" ته لیږی چه دا فقره دی پورې تعلق لری،
هغه "وزارة" به لازم الاجراء اجراء کوی - او که لازم الاجراء
نه وی سم له (۳۰) قاعدې سره د دې نظامنامې کار کوی.
(۴۴):- هغه فقری چه مجلسو د مشورې نه نائب الحکومه کانو
او حاکمانو ته عرض وړاندې کیږی - د نائب الحکومه کانو او
حاکمانو له خوا نتیجه او ځواب د هغه مجلس د مشورې ته تر یوې
میاشتې ښکاره نه شي، مجلسونه د مشورې عرض د
حاجتونو چیل شورای دولت ته کولای شي.
(۴۵):- هغه فقرې چه مجلسونه د مشورې ئې شکایة
شورای دولت ته ولیکی - شورای دولت به

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 22 of 32



په دغه باب کښې وايکې - او هغه "وزارت" ته به خبر ورکوي، چه داسې فقرې ئې په تعلّق کښې وي - که په اجراء د هغې کښې د "وزارت" له خواځنډ ومعطلي سے "شوراء دولت" هغه فقره حضور د "اعليحضرت" ته وړاندې کولای سي.

(۴۶):- نظامنامې د حکومت، د "شورای دولت" له خوا په غور سره جوړ، او "مجلس وزرا" ته وړاندې کيږي - پس له تصويب وقبليدو د "مجلس وزرآء" او منظورے د "اعليحضرت" نه په ځاى د اجرا وچلول کښې ايښودل کيږي.

(۴۷):- زياد په هغه "اعضاى طبعيته" باندې چه هميشه په "شوراى دولت" کښې وي - ملکي کاردارانٌ "نائب الحکومه" نه اعلى حاکمانو پورې - او له لښکري منصبدارانو تر "لوامشر" پورې چه له کاردانو ځنې منتخب صوي، او تر محاکمې لاندې نه وي

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 23 of 32



داخلی - په جمله د "اعضای طبعیّه" د "شورای دولت"
کښی، تر وقت د معلومیدو د خپلی کار د اری د دوی ننه
وتای سی.

(۴۸):- د هر کال "بودجه" چه په "وزارت مالیّه" کښی جوړیږی،
سم له عمومی نظامنامی د "بودجی" "شورای دولت" کښی
په نظر د غور سره کتله کیږی.

(۴۹):- خبری او عهد نامی او قرار دادونه چه بیگانه وسره
کیږی، د "شورای دولت" له خوا ملاحظه کره او نظر د
غور به کیږی

## محکمی

(۵۰):- په عدلیّه محکموکښی هر راز دعوی ښکاره جاری کیږی
یو څه دعوی چه په خاصه نظامه د محکموکښی ښودلی شوی دی
د مغو فقرو دعوی، قاضی په پټه سره اجراء کوی.

(۵۱):- په مخ د محکموکښی هر څوک، لپاره د ساتنه د خپل حق یو
شرعی واسطی او خبری، وړاندی کولای سی.

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 24 of 32



(۵۲) :- محکمی د مدعی علیه په لیدل او خلاصه ول د دعوو کښې چه په وظیفه د دوی کښې وی ځنډ او معطلی کولای نه شی

(۵۳) :- قول محکمی له هر راز مداخلت و خود غرضی څخه خلاصی دی .

(۵۴) :- راز ونه او درجې د محکمو ، واک او اختیار د دوی په نظامنامه د "تشکیلات اساسی" کښې روښانه بیان شوی دی .

(۵۵) :- هیڅ څوک غیر له محکمو د عدلیه نه چه د حکومت له خوا مقرری دی ، هیڅ محکمه لپاره د خلاصولو د بعضی خاصو دعووپه ولای نه شی .

## دیوان عالی

(۵۶) :- "دیوان عالی" خاص له پاره د محاکمی د وزراء د دولت په وقت د ضرورة د څه وقت له مخی جوړیږی - او پس له پوره کولو د هغه کار چه ورسپارلی شوی ده فسخ و ورانیږی .

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 25 of 32



(۵۷):- راز د جوړولو د "دیوان عالی" او قاعدی د محاکمی د هغه له خپلی خاصی نظامنامی سره سم سرته رسیږی.

## د مالیی کارو

(۵۸):- ټول محصولونه د دولت سم له خاص قانون خپلی سره آخسته کیږی.

(۵۹): هر کال له پاره د دخل او خرج د دولت یوه "بودجه" جوړیږی او دا "بودجه" به اساس و د دستور العمل وی له یاره د دخلو او خرڅو د دولت، ټول د دخلونه او خرڅونه دی له مخی آخسته، او په خرج رسول کیږی.

(۶۰):- پس له جاری کیدلو د سالانه "بودجی" او تمامیدلو کال یو قطعی حساب به جوړیږی، چه د اقطعی حساب به د دخل او خرج صحیح اندازه د دی تیر کال ښکاره کوی.

(۶۱):- لپاره د تحقیق و غور د دی خبری چه آیا دخلونه او خرڅونه د دولت په ربښتیا سم له نظامنامی د "بودجی" سره شوی دی و که نه؟ یو "دفتر د سنجش" جوړیږی - "دیوان سنجش" د پاره خاص نظامنامه ستر

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 26 of 32



(٦٢):- له پاره د جوړولو د محاسبهٔ قطعيه او د پاره د جوړولو د بودجې، او صورت د تطبيق و برابره ول او چلولو د هغې خاصه نظامنامه سته

## د ولاياتو اداره

(٦٣):- د ولاياتو اداره له دري قاعدو واساسي نقطه بناو جوړه ده:- زياد والي د اختيار، بيلوالى د وظيفه او كار، معلوميدل د مسئوليت و بازخواست بنا پر دا قاعدو سره چه ذكر شوي وظيفې و كاروونه د ولايتو د كاردارانو سم له جوړي شوي نظامنامو سره معلومي او بيلي شوي دي - واك و اختيار داري د دوو كاردارانو هم له نظامنامو خاصو سره محدود و ښكاره شوي دي - هر مامور په وظيفو خپل كښ په درجه سره هغو مامورانو ته چه په مرتبه كښ له ده نه پورته وي، جواب ده دي.

(٦٤) په ولايتو كښ د هر وزارت له خوا نه بيل بيل كاردارانو مقرر دي، رعيت به له پاره د اجراء د كار او خلاصول

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 27 of 32



د حلجتو خپل، اوّل همغه مامورته ورځی چه د ا
کاره ور پوری تعلق لری !

(٦٥):- که چلول او اجراد کار د رعیّت په مامورانو لیږي
یا په حق د دوی کښ مامورین خلاف له نظامنامو ته
رفتار و کړی - د دوی په سبب د معطّلی او
ځنډه ولو د کار او بد رفتاری د کار دارنو ته
کار دارته د عرض و کړی - او که دوی
نه اوریدو نائب الحکومه او اعلی حاکمانو
ته عرض او داد کولای سی .

(٦٦):- تشکیل او چوړول د دائرو د بلدیّا ، او
وظیفی د هغو په خاصه نظامنامو کښ روښانه
بیان شویدی .

(٦٧):- هر کله چه په یو کوښښ د ملک کښ علاقی
د سوکښی او د یاغی والی چه عمومی امنیّت ته
خلل رسوی ښکاره شی دولت د حکومت

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 Image 28 of 32



حکومت لښکری اعلان کوی او لښکری
اداره جوړوی.

## متفرقه قاعدی

(٦٨):- رعیت او تابعان د افغانستان ته زده کول د
ابتدائی درجی د علم لازم او ضروری دی. درجی
او ښاخونه د تعلیم په یوه خاصه نظامنامه
کښی ښکاره دی چه موافق او سم له هغی سره
زده کیږی.

(٦٩): هیڅ ماده او قاعده د دی "اساسی نظامنامی"
په هیڅ سبب او په هیڅ شان سره نه معطلیږی او
نه ئی حکم د چلولو ساقطیږی.

(٧٠): په سبب د ضرورت او لازم والی که کمه
قاعده د دی "اساسی نظامنامه" اړول او
بدلول وغواړی پس له فکرو د دوه له دریو برخی

ځني د اعضاءِ د شورای دولت او تصويب او پسند له
د عالي مجلس وزراء حضور د "اعليحضرت" ته وړاندې
کيږي. آمر يل او بطلول ئې هغي ممکن دی.

(۷۱):- که شرح او ترجمه او ښکاره بيان کول د يوې
مادې د دې "اساسي نظامنامې" يا د نورو نظامنامو
د دولت لازم او ضرور وليد ه سي "شوراي دولت"
ته ليږل کيږي - پس له صحيح کول او ښکاره
بيانولو د "شوراي دولت" او خوښولو د عالي مجلس
وزراء چاپ شوی نشر او خپور کيږي.

(۷۲):- په وقت کې جوړولو د نظامنامو کښې معاملې د
خلقو مقتضيات، خواهشات د زماني خصوصاً
حکمونه د "شرع شريف" په خورا ښه تحقيق
سره کاته کيږي.

(۷۳):- ساتنه ده کاغذ ونوله حقوقو استيله وتکو د وطن
څخه دی محصولي مکاتيب و خطونه چه پوسته

کښې ورکول کیږي ترڅو چه یوې محکمې له خوا ته حکم د گناه
ونسي په هیڅ پوسته خانه او نورو ځایو کښې نه لوستل
کیږي . همغسې سر ترلې هغه چاته چه لیکلې شوې
دي سپارل کیږي .

د اساسي نظامنامه له اوله تر آخره پورې یو شلې په (۱۰)
د حوت ۱۳۰۱ لویه جرګه کښې د سمت مشرقي په اتفاق د فکرو
د دولت د وزیرانو او د نورو ملتي وکیلانو له پاره د اساسي
د لوړ دولت د افغانستان قبول او خوښه شوې دي - او ټم
سوه مه وه او یا کس غټانو د مرکې په سم والي او صحت د دې ټو
او دستخطونه کړي دي - او بیا په ستر مجلس کښې د لویه جرګې
چه په میاشت کښې د سرطان ۱۳۰۳ په پغمان کښې جوړ شوې
وه ، له تصویب او خوښوالي د قول علما ، سادات ، شیخان
وکیلانو ، غټانو د کل افغانستان نه وتلې دي .

په ټینګولو د دې لهجې نظامنامه د دولت او په اجرا کولو د محکمو د قاعدو
بدې باندې حکم وکوم .

http://hdl.handle.net/2333.1/rfj6q6q2 